


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۱۷ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# ديدار ته ځان تيار که

بيا سره کالی په تن که ديدار ته ځـان تيار که
خوشحاله زړه غمجن که بهار ته ځان تيار که
هر خوا تاته ګلونه له ځان ورک کـــه غمونه
روښان ځمـــا چمن که ګلزار ته ځـــان تيا که
په پوزه دي پيزوان که تيکه بند په زلفان کـــه
ټول شپه ياد ته اتن که سهار ته ځان تيار کـــه
ګوره زه دستا دلدار يم ستا مينه کی بيمار يم
ځما وران زړګی ختن که دلدار ته ځان تيار که
ته ورک له ځـــان جفا که هو ماسره وفا که
غماز ته جوړ کفن که ديدار ته ځان تيار که
محب خو ستا غمخوار دی ستا دزړګی يـاردی
بيا سره کالی په تن که خپل يار ته ځان تيار که

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org